۱۶ جوزا ۱۳۸۱

په کندهار کې د امریکایي ځواکونوله لوري د ملکي وګړو له مړو سره د نا انساني چلند د غندنې په اړه د بشري حقونو د خپلواك کمېسیون مطبوعاتي خبرتیا

دافغانستان دبشري حقونو خپلواك کمیسیون په کندهار کې دملکي کسانو وژنه اودهغوی له جسدونوسره دامریکایي پوځیانو له سپکاوي ډك چلند په کلکه غندي او په کره توګه ددغې پېښې د څیړنې او په چټکه توګه د هغو د عاملانو د محاکمه کولو غوښتنه کوي.
په کندهار ولایت کې د امریکایي ځواکونو له خوا د ملکي کسانو د وژنې په اړه له خپرو شویو رپوټونو څرګندیږي چې دا کار د ټولو نړیوالو انساني ارزښتونو او نړیوالو بشر دوستانه قوانینو او معیارونو خلاف کار دی.
په ټولو وسله والو شخړو باندې دحاکمو نړیوالو بشر دوستانه قوانینو له مخې چې د اړتیا داصل رعایت، تناسب او د انساني کړنو تفکیك په کې د نړیوالو آمره قواعدو په ډله کې راځي په کار ده چې ټولې ښکېلې خواوې هغه په سمه توګه رعایت کړي.
دافغانستان د بشري حقونو خپلواك کمېسیون تل په افغانستان کې د ښکېلو خواوو له لوري د بشري حقونو د نړیوالو معیارونو او د بشري حقونو د نړیوالو بشر دوستانه قواعدو د نه رعایت په اړه خبرداری ورکړی او له هغو نه یې د پرله پسي سرغړونو په اړه د اعتراض غږ پورته کړی دی.
دافغانستان د بشري حقونو خپلواك کمېسیون د ټولو ښکېلو غاړو نه ددې تمه لري او ټینګار کوي چې د نړیوالو بشردوستانه قوانینو مقرارات او معیارونه دي پلي کړي ترڅو هغه کسان چې له دغه اصولو څخه سرغړونکي پیژندل کېږي د اړوندو څانګو له خوا دې له وخت سره سم له پیژندلو وروسته له قانوني چلند سره مخ شي او د محاکمه کولو او مجازاتو په اړه دي جدي ګامونه پورته شي. ترڅو ددغه ډول مخنیونکواقداماتو له لارې په راتلونکي کې د ورته اعمالو د بیا تکرار د مخنیوي ترڅنګ ضمانت رامنځته کړي.

دافغانستان د بشري حقونو خپلواك کمیسیون
کابل د۱۳۹۰لمریز کال د وري دمیاشتې دویمه